دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

بې له شکه چې له الله نه ډارېدونکي خلک به په باغونو او چینو کې وي. د خپل رب ورکړي نعمتونه به په خوښی سره اخلي ځکه چې دوی له دېنه په مخ کې ژوند کې نیکوکاران وو. د شپې په ډېره لږه برخه کې ویده کېدل او د شپې په آخرنی برخه کې بې بخښنه غوښتله په مالونو کې یې د سوالګرو او بې وسو برخه مالومه وه. (الذاریات ۱۴ – ۱۹ آیتونه)

درس حدیث

له حضرت معاذ رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې ما له نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه د غوره ایمان په هکله پوښتنه وکړه هغه وفرمایل: غوره ایمان دا دی چې ته نورو خلکو لپاره هغه څه خوښ کړې چې خپل خان ته یې خوښوې او هغوی لپاره هغه څه بد وګڼې چې خپل خان ته یې بد ګڼې. (رواه احمد)

شهادت درېیم کال، ۲۹ مه ګڼه، پرله پسې ۱۲۹ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د تله ۲۰ مه د۱۴۳۲ هـ ق د ذوالقعده ۱۵ مه د۲۰۱۱ م د اکتوبر ۱۲ مه

لودین:

شماری از اعضای کابینهء دولت افغانستان در فساد دست دارند

کابل، رسانه ها:
ادارهء عالی نظارت و مبارزه علیه فساد اداری افغانستان برخی از مقام های ارشد دولتی را به عدم همکاری با این اداره در بخش مبارزه با فساد اداری متهم می کند.
هر چند مسوولان ادارهء عالی نظارت و مبارزه علیه فساد اداری افغانستان به طور مشخص نمی گویند که کدام وزرا و والیان به فساد اداری آغشته اند اما به گفته رییس این اداره در برخی مواقع نمی توانند تا این مقام ها را از آنچه انجام می دهند، مانع شوند.
داکتر عزیز الله لودین که به روز سه شنبه در کابل صحبت می کرد تایید کرد که شماری از اعضای کابینهء رییس جمهور کرزی در

بقیه در صفحه ۳

گیلاني د رباني د ترور په اړه له افغانستان سره د استخباراتي مالوماتو د شریکولو وړاندیز وکړ

PROPERTY OF ACKU

پاکستان، رسنۍ:
د پاکستان صدراعظم یوسف رضا ګیلاني له افغانستان سره د سولې د عالي شورا د رییس برهان الدین رباني د ترور د تحقیقاتو لپاره د استخباراتي مالوماتو د شریکولو وړاندیز وکړ.
ده چې د بلوچستان ایالت په مرکز کوټې کې له خبریالانو سره خبرې کولې، وویل چې پاکستان هم د برهان الدین رباني پر وژل کېدو ټکان وخوړ او افغانستان ته یې د ګډې پېښې د تحقیقاتو په برخه کې د همکارۍ وړاندیز وکړ. ده وویل، هیواد یې چمتو دی چې په دې برخه کې له افغانستان سره استخباراتي مالومات شریک کړي څو هغه عناصر څرګند شي چې د رباني په ترور کې لاس لري.
رباني لومړنی افغان دی چې په وژل کېدو یې د کرزي حکومت سخت پارېدلی او پر پاکستان یې سختې نیوکې کړې دي. کرزي د دې مسلې په خاطر اعلان وکړ چې نور د طالبانو پرځای له پاکستان سره خبرې کوي.
وسله والو طالبانو تراوسه پورې د رباني په ترور کې لاس لرل نه دي منلي خو په زغرده

پاتې ۴ مخ

شرکت نفت زلمی خلیلزاد نتوانست قرارداد استخراج نفت شمال افغانستان را بدست بیاورد

زلمی خلیلزاد سفیر سابق امریکا در افغانستان، عراق و ملل متحد، به دلیل آن

بقیه در صفحه ۴

امریکا، رسانه ها:
در حالیکه تلاش ها به هدف استخراج معادن افغانستان ادامه دارد، گفته می شود شرکت نفت زلمی خلیلزاد سفیر سابق امریکا در افغانستان و ملل متحد، به دلیل آنکه نتوانست قرارداد استخراج نفت شمال افغانستان را به دست بیاورد، خشمگین است.
پسر خلیلزاد که رییس اجراییوی شرکت نفت گرفن می باشد، پنتاگون را مورد انتقاد قرار داد و گفته است، در حالی که امریکا از نفوذ زیاد در افغانستان برخوردار است، چین در این معامله چگونه توانست برنده شود.
بر اساس یک مقاله که در نشریه فارن پالیسی امریکا به نشر رسیده است، شرکت شخصی

د ټاکنو کمیسیون د سیمین بارکزۍ اسناد له سره ګوري

کابل، رسنۍ:
د انتخاباتو کمیسیون وایي، له ولسي جرګې څخه لرې شویو نهو کسانو تقلب نه وو کړی خو د رایو د کمښت له امله له جرګې وویستل شول.
د دغه کمیسیون مشر فضل احمد معنوي د سې شنبې په ورځ په کابل کې خبریالانو ته وویل چې، له خپلې وروستۍ پرېکړې ملاتړ کوي خو دې ته هم چمتو دي چې د سیمین بارکزۍ اسناد له سره وګوري:
(د انتخاباتو خپلواک کمیسیون په دې باور دی، هر هغه څه یې چې کړي د قانون او عدالت له مخې دي.
که یا هم داسې فکر کیږي چې دغه کمیسیون عدالت تر پښو لاندې کړي،نو موږ اعلان کوو چې ، ملي شورا دې خپل استازي را ولیږي او له نږدې دې د سیمین بارکزۍ اسناد او ورقې وګوري.
هر هغه څه چې زمونږ په وس کې وي او قانون ورته اجازه ورکړي مونږ یې کوو.)
معنوي وایي، د سیمین بارکزۍ د روغتیایي وضیعت په اړه اندېښمن دی او هیله ورنه کوي چې خپل اعتصاب پای ته ورسوي.
نوموړې وایي، سیمین بارکزۍ درغلۍ نه دې کړې خو په دویم ځل رایه شمېرنه کې یې رایې له رحیمې جامي څخه کمې شوې او دا د کامیابو وکیلانو له لست څخه وویستل شوه.
سیمین بارکزی هم له لسو ورځو را په دې خوا د نه خوړلو اعتصاب پیل کړي او د ملي

پاتې ۴ مخ

په مالي فساد کې تر ډېره حده بهرنیان ښکېل دي

په افغانستان د بهرنیو مشاورینو تعداد ۱۰۴۰ تنو ته رسېږي چې کلنۍ لګښت یې دوه ملیارده ډالرو ته رسېږي

دویم مخ

سروې:

په افغانستان کې سږکال اوه سلنه کوکنار ډېر کرل شوي

په پرتله په دې هېواد کې د کوکنارو کښت په سلو کې اوه زیات شوی دی.

پاتې ۴ مخ

کابل، رسنۍ:
د نشه یي توکیو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې اداره او د افغانستان د مخدرومودادو پر ضد د مبارزې وزارت په دې هېواد کې د کوکنارو د کښت د زیاتوالي لامل، په نړېوالو بازارونو کې د نشه یي توکیو د بیې لوړېدل، په افغانستان کې نا امني او د قانون نه عملي کېدل بولي.
د مخدرومودادو پرضد دمبارزې وزیر ضرار احمد مقبل د سې شنبې په ورځ په افغانستان کې د کوکنارو د کرکیلې په اړه د یوې نوې سروې د اعلان پرمهال وویل، چې د تیر کال

ملل متحد:

در افغانستان با زندانیان برخورد نادرست می شود

رادیو آزادی:
سازمان ملل متحد با پخش گزارشی از برخورد نادرست با زندانیان افغان در زندان های تحت کنترول حکومت افغانستان خبر داده است.
در این گزارش سازمان ملل متحد که امروز به نشر رسیده است، گفته شده که ده ها تن از زندانیان در زندان های تحت کنترول حکومت افغانستان شکنجه شده اند.
داکتر نظیف الله سالارزی یک سخنگوی سازمان ملل متحد در صحبت با رادیو آزادی گفت، این شکنجه ها عمدتاً در زندان های امنیت ملی و وزارت داخله افغانستان صورت گرفته است.
وی اظهار داشت: "در کل یوناما با حدود ۳۷۹ تن در توقیف گاه ها در سراسر افغانستان مصاحبه کرده است. این ۳۷۹ تن کسانی بوده اند که پیش از آنکه محاکمه شوند و یا هم افرادی بوده اند که محکوم شناخته شده اند. با حدود ۴۶ درصد از این افراد از سوی امنیت ملی برخورد نادرست

بقیه در صفحه ۴

په افغانستان کې د امریکا لس کلن شتون ګټه یې ډېره وه که تاوان یې؟

محمد خلیل

له نن نه لس کاله وړاندې د اکتوبر په ۷ مه امریکا او ناټو ځواکونو پر افغانستان په دې دلیل یو زبردست پوځي یرغل وکړ چې د امریکا نړیوال تجارتي برجونو د نړوونکو پلان جوړوونکي او دستور ورکوونکي د القاعدې شبکې مشر اسامه بن لادن او دهغه نور ملګري په افغانستان کې اوسېږي او د طالبانو حکومت له هغوی سره مرسته کوي.
امریکایي او ناټو ځواکونه د خطرناکو وسلو په کارولو وتوانیدل چې په لږه موده کې د طالبانو حکومت وپرځوي او پر ځای خپل د نظر وړ اشخاص د اقتدار په ګدۍ کېنوي.
په ظاهره امریکا دا شعار زمزمه کوله چې خلکو ته به د بیارغاونې کارونه کوي، د افغانستان اقتصاد به پیاوړی کوي، د القاعدې جرړې به وباسي، د افغانستان استقلال به یقیني کوي د نورو هېوادونو له پوځي ګواښونو څخه به خلاصوي، امن او امان به تأمینوي، بیاوړې دیموکراسي به راولي. زراعت، تعلیم او .... ته به وده ورکوي.
دا دی اوس په افغانستان کې د امریکا او ناټو غړو هېوادو ځواکونو د شتون لس کاله بشپړ، او یوولسم کال یې پیل شو، راځئ وګورو چې امریکا او دهغه ملګرو په دې لسو کلو کې افغانانو او خپلو هېوادوالو ته ګټه ډېره رسولې او که تاوان؟
که چېرته په افغانستان کې د امریکا او ناټو غړو هېوادو په لس کلن حضور ژور غور وکړی شي نو دا نتیجه ترلاسه کېږي چې د لاندنیو دلایلو پر بنسټ ګټه یې ډېرو محدود کسانو ته، او تاوان یې عام ولسي وګړو ته رسېدلی دی.
په تېرو لسو کلونو کې د افغانستان یولک او دیرش زره عام ولسي وګړي وژل شوي دي. لکونو وګړو ته مالي تاوان رسېدلی، کورونه یې ویجاړ شوي او پخپل هېواد کې د کډوالۍ ژوند تېروي.

پاتې درېیم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د افغانستان مشکل پخپله افغانان حلولې شي نه بل څوک

تېره اونۍ ولسمشر کرزی د عالمانو له شورى سره په ارګ کې د خبرو پر مهال وویل چې له دې وروسته به د سولې خبرې اترې د طالبانو پرځای له پاکستان سره کېږي ځکه چې د طالبانو مرکزونه په پاکستان کې دي او دهغه هېواد د استخباراتو په لارښوونه په افغانستان کې عمليات ترسره کوي.

ولسمشر کرزی، یا د سولې عالي شوری چې له هر چا سره خبرې کوي، کوي دی، خو دهر څه دمخه ددې خبرې ضرورت دی چې هغه له وړاندېنه یوه روښانه دریځ او مضبوط ولسي ملاتړ ولري، د بهرنیانو د ګټو پر ځای یوازې او یوازې د افغانستان د مسلمان ولس استقلال او د زمکنې بشپړتیا ګټې په نظر کې نیول شوي وي، د سولې پروسه یواځې افغاني بڼه ولري او د پردیو فرمایشونو ته بالکل ځای نه وي ورکول شوي.

د دولت له مخالفینو سره د خبرو اترو په اړه لومړی خو پخپله د افغانستان د وګړو ترمنځ اختلافات موجود دي، ځینې ډلې ټپلې په ځانګړی ډول د تغیر او امید ائتلاف له مخالفو ځواکونو سره د خبرو اترو سخت مخالفت کوي او نه غواړي چې له هغوی سره د سولې خبرې وشي.

بل لورې دولت هم د مخالفینو په وړاندې د سولې لپاره داسې شرایط ایښي دي چې د هغوی منل د تسلیمۍ معنا لري مثلاً د افغانستان اساسي قانون منل، وسله پر زمکه ایښودل او له دولت سره یو ځای کېدل. امریکایي او ایساف ځواکونو قوماندان هم کله کله داسې بیانیې ورکوي چې موږ به تر هغه جنګ ته ادامه ورکوو تر څو چې مخالفین په کمزوری موقف کې نه وي واقع شوي. دا داسې شرایط دي چې د مخالفینو له غوښتنو سره ښکاره ټکر کوي. څرګنده خبره ده چې د پیشکې شرایطو په صورت کې د سولې خبرې اترې نه شي کېدلې او که وشي هم نو څه نتیجه به نه لري چې ښکاره ثبوت یې د سولې جرګې له خوا د پیل شویو خبرو اترو ناکامي دی.

موږ باید دا واقعیت ومنو چې زموږ مشکل بل څوک نه شي حلولې او نه هم هغوی دا ضرورت لري چې زموږ لپاره په غرونو، دښتو او ښارونو کې عملیات وکړي او د سر په بیه د افغان دولت مخالفین ووژني او یایې هم ونیسي.

د افغانستان د لانجې د حل یواځینۍ لاره داده چې دولت او مخالفین دواړه ددغې لانجې د ختمولو لپاره په ګډه په یو میکانیزم کار وکړي، ددې پر ځای چې د بهرنیانو فرمایشونه او ګټې په نظر کې ونیسي او یا هم خپل ګوندي او قومي ګټې وپالي په سلو کې سل د خپل دین، خاورې او ولس مجموعي ګټې په پام کې ونیسي، د اختلافاتو پر ځای په مهمو او بنسټیزو نقاطو یو دریځ خپل کړي، پر هغو نقطو او اصل دې اتفاق وکړي چې د هېواد، ولس، عقیدې او استقلال په ګټه وي او له هغو غوښتنو دې تیر شي چې د هېواد، ولس او اسلام په تاوان دي.

افغانان دې دا حقیقت ومني چې د افغانستان د لانجې په ختمولو کې چې کوم ستر مسؤولیت او بنسټیز رول د افغانانو په غاړه دی د بهرنیانو په غاړه نه دی، اصلاً د افغانانو خپلمنځي ناروا اختلاف او ځان غوښتنې نورو هېوادونو ته د لاسوهنې لارې خلاصې کړیدي او له همدغو اختلافاتو نه د ګټې په پورته کولو په افغانستان کې خپل اهداف پرمخ وړي. که چېرته افغانان خپل ناروا اختلافونه ختم، او ټول یو دریځ اعلان کړي نو په پوره یقین سره ویلی شوو چې د افغانستان مشکلات به په ډېر لږ وخت کې ختم شي، له بهر نه د لاسوهنو روانه لړۍ به هم پای ته ورسېږي او بهرني ځواکونه به هم په افغانستان کې د شپې تېرولو اراده ترک کړي.

شیخ الازهر:

دموکراسی آمریکایی نمی‌خواهیم

به گزارش تعامل به نقل از واحد مرکزی خبر، دکتراحمد الطیب با انتقاد از دست و دل بازی های اتحادیه اروپا و آمریکا در حمایت از برخی گروههای خاص در کشورهای منطقه و در مقابل چشم پوشی از کمک به ریشه کنی فقر و بی سوادی در این کشورها، دموکراسی آمریکایی را الگوی مناسبی ندانست و گفت: "دموکراسی در هر کشوری بر گرفته از اراده مردم آن کشور است".

شیخ الازهر که در دیدار با "آن پاترسون" سفیر آمریکا در قاهره سخن می گفت دخالت های کاخ سفید را در جهان اسلام سبب شکل گیری نوعی واکنش خشن علیه آمریکا و گسترش نفرت از واشنگتن دانست و خطاب به مسئولان آمریکایی گفت: "وقت آن رسیده است تا به این مرحله از درک برسد که تحولات مختلف را باید با معیارهای درست عدالت و حقیقت ارزیابی کند و دور شدن از رویکرد متوازن سبب می شود تا همه متضرر شوند".

وی تصریح کرد: "ملت های عرب و مسلمان هیچ مشکلی با مردم آمریکا ندارند بلکه مشکل اصلی آنها با رویکردهای سیاسی دولت های این کشور به ویژه در نگرش به قضایای اسلامی است".

احمد الطیب سیاست های واشنگتن را در حمایت کامل از رژیم صهیونیستی محکوم کرد و گفت: "این سیاست تنفر از عدالت آمریکایی را تقویت می کند چنانچه سبب می شود نهادی مثل الازهر در حمایت از مردم فلسطین و حمایت از تلاش ها برای تشکیل کشور مستقل فلسطین به پایتختی قدس شریف مصمم تر شود".

وی بهار عربی و انقلاب ملت ها را ناشی از اراده ملت ها خواند و گفت: "چنین تحرکاتی کاملا مسئله ای داخلی است زیرا آمریکا و غرب با وجود ادعای ترویج دموکراسی اموال زیادی را در برخی از کشورهای منطقه هزینه کرده اند اما ره به جایی نبرده اند تا ثابت شود که ملت ها بیدار شده اند و مصلحت خود را می فهمند به همین منظور ما نیز هر گونه تلاش برای مداخله کشورهای غربی در امور کشورهای منطقه را به طور قاطع رد می کنیم".

په مالي فساد کې تر ډېره حده بهرنیان ښکیل دي

لیکوال: عبدالبصیر سباوون

له افغانستان سره چې کومې نړۍ والې مرستې کېږي تر ډېره حده پورې بهرنیان یې په شکل د اشکالو زموږ له هېواد څخه بېرته وړي، ټول هغه قراردادونه چې په افغانستان ترسره کېږي ځینې بهرنیان په دغو قراردادونو کې مستقماً شریک دي او یا د قرارداد په کولو کې له قراردادي څخه پیسې اخلي، چې په دې اړه یو شمېر افغان چارواکیو هم خپلې اندېښنې څرګندې کړي دي. دوی وایي چې په افغانستان کې روان مالي فساد، له دغه هېواد سره یو شمېر مرسته کوونکو هېوادونو ته هم غځېدلی دی او همدارنګه هغه په میلیونونو پیسې بېرته په بهرنیو سلاکارانو لګول کېږي او د دغو سلاکارانو له لارې ډېرې مرسته شوې پیسې بېرته له افغانستان وځي. په دې سره ډېرې مرسته شوې پیسې بېرته له افغانستان څخه بهر لګول کېږي. پر بهرنیو سلاکارانو د ډېرو پیسو لګول او د افغانستان په یو شمېر ادارو کې د دوی حضور د افغانستان موجوده وضعه نوره هم خرابه کړې ده، زه فکر کوم لکه څرنګه چې د افغانستان په دولت کې حساب شفاف نه دی، په همدې ډول په بهرنیانو او له افغانستان سره په مرسته کوونکو هېوادونو کې هم همدا ډول حالت روان دی. له بدمرغه موږ په بېلابېلو برخو کې شاهد یو، لکه څنګه چې افشا شوي، بهرني سلاکاران له ډېرو معاشونو سره سره، د افغانستان په ملکي ادارو کې د کار د ښه والي لپاره ګومارل شوي، خو نه یوازې دا چې د هغې ادارې کار نه دی ښه شوی، بلکې اداره نوره هم وروسته پاتې شوې ده او همدارنګه ځینې کارپوهان دا تور هم لګوي، چې دغه بهرني سلاکاران او مشاورین له اړونده ادارو څخه خپل هېواد لپاره جاسوسي کوي او د ادارې ټول رازونه خپل هېواد ته افشاء کوي. که چېرې افغانستان ته د ۸۰ سلنې پر لېږل شویو سلاکارانو شوي لګښتونه په هېواد د ننه پر افغان متخصصینو ولګول شي، نو ډېرې ښې لاسته راوړنې به ولري. په افغانستان کې پر دغو سلاکارانو ډېر لګښتونه، د هېواد کاري ورتیا جوړونې ته هم زیان دی.

دا په داسې حال کې ده، چې (سیګار) یا د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا د څارنې ادارې په خپل رپوټ کې لیکلي، چې د افغانستان لپاره د ملکي سلاکارانو لګښت تراوسه شاوخوا دوه میلیارده ډالره شوی او هر سلاکار کلنی لګښت له ۴۱۰ تر ۵۷۰ زرو ډالره دی.

د دغو سلاکارانو موخه، چې د افغانستان د اقتصادي پیاوړتیا او د غوره ظرفیت جوړول دي، د ۲۰۰۹ میلادي کال په لومړیو کې یې شمېر ۳۲۰ تنه وو، چې په روان کال کې یې شمېره ۱۰۴۰ تنو ته رسېږي.

د دغو سلاکارونو پر ځای باید د افغانانو په وړتیاو کار وشي تر څو به په افغانستان کې بهرني سلاکاران وي کله چې د بهرنیو هېوادونو مرستې ودرېږي دوی به هم له افغانستان څخه خپلې پښې سپکوي؛ ځکه دغه سلاکاران خو موږ په دې غربت کې نه شو ساتلی، که نړۍ واله ټولنه په رښتنې توګه له افغانانو سره مرسته کوي ښه به دا وي چې افغانان ورزي او له بهرنیو سلاکارانو څخه مو خلاص کړي.

کمونستان هم پښتانه شول!

ډېرې خبرې مې په زړه وې

عبدالله « کامه وال »

د نوي نظام دراتګ سره هر څوک فعال شو تېر ترې هېر شو او پدې فکر کې شول چې لوبه د سره شوه او باید پدې لوبه کې له چا وروسته پاتې نه شي ځکه دیموکراسي دهر چا برخه وګرځېده هر څوک یې په خپل ځای یو څوک معرفي کړ هیڅ څوک یې هم بې برخې پرې نښود او په تېره بیا سیاسي شنونکي او کارپوهان خو یې په هره کوڅه کې یو پیدا کړ چې د دې کارپوهانو ډېرې هغه زاړه کمونستان دي چې د رواني غمیزې اصلي عاملین دي دوی په پوره سپین سترګۍ او جرئت داسې خبرې کوي چې ته ګومان کوئ ګنې دوی هیڅ هم نه دي کړي کمونستان پښتانه دي اوکه تاجک او یا نور... په شریکه یې یوه داسې لاره خپله کړی چې په ډېره آسانه خپل هدف ته ورسېږي اوتر ډېره پدې هدف کې کامیاب شوي هم دي پښتانه کمونستان غواړي په هغه غونډو اومجالسو کې چې دهېواد په هکله پکې خبرې کېږي برخه واخلي او کوښښ یې دا وي چې دبحث لورې بل خواته یوسي ځکه دوی پوهېږي چې اوس خبره په دوی راګرځي نو سم د واره دپښتنو دحقونو او په نظام کې یې دکم رنګي خبره شروع کړي او همدارنګه تاجکان هم، خو فرق یې دادی چې هغوی دخپل قوم سره رېښتوني مینه لري او دایې دخپلې حکومت داری په دوران کې هم ثابته کړی او نن هم لګیا دي خو پښتانه بیا داسې نه دی یواځې تر خپلې ګټو پورې دی خو بده ورځ یې جوړه کړی او وایې چې پښتانه مړه شو، ورک شو او لا ورکېږو راځئ چې نورې هغه خبرې پرېږدو چې ته څوک یې او زه څوک یم راځئ په یو اواز او له یوه ټغره دخپل قوم د ژغورنې تصمیم ونیسو ګنې هغه د باچا خان خبره لا به یو کېږو ګنې ورکېږو. او داسې احساساتي خبرې به وکړي ته به وایې تردې لا بل څوک پر دې خاوره او قوم مین دي؟ ځنې غیر شعوري پښتانه چې دوی نه پېژني هم په خبرو کې ورسره ملګري شي خو له دې ښاغلو چا داپوښتنه ونکړه چې دا هر څه دکومې ایډیالوژي برکت دی دا هر څه چا وکړه دا یونیم میلیون افغانان چې شهیدان شول او په لکونو معیوب، په میلیونونو مهاجر شو، کورونه یې ړنګ او ښځې یې سرتورې شوې دا کار چا وکړ او هغوی چې بې ګناه ژوندي ښخ شول او بچي یې یتیمان شو پښتانه نه ول؟ که هغه مهال تاسو پښتانه نه وئ؟ د هرات، کنړ او پلچرخي د ډله ییزو وژنو مسؤل څوک دي؟ تاسو څه فکر کوئ چې هغه زموږ له یاده وتلې دی؟ نه اوس هم دهغه شهیدانو کونډې او یتیمان زموږ په کوروکې شته او ستاسو دظلم او ستم کیسې یې یادې دي تاسو اوس پښتانه شوئ؟ اوس درسره دپښتنو دحقونو غم پیدا شو؟ اوس تاسو پښتانه ګټئ؟ پښتانه تر هر چا ستاسو په نظام کې د ل شوي، ورک شوي او خوار شوي. ستاسو په نظام کې خو هم ستاسو په څېر یو چارواکي خپله سیمه له هر ډول بدبختی او جګړو ساتلې وه چې کشمند نومېده. هغه خو هزاره او د هزاره جاتو سیمې له بمباره ساتلې وې او پلچرخي او نور وحشي زندانونه چې د کمونستانو له خوا به په کې مسلمانان په تعذیب کې ساتل کېدل او له هغه ځایه به د مرګ کندو ته وړل کېدل هم د دوی لپاره نه و، او حکومت ته به یې ویل چې له دې سیمې زموږ لپاره هېڅ ډول اندېښنه نشته، راځئ چې اول دا پښتنې سیمې او پښتانه وټکوو دوی دنظام په وړاندې خنډ دي هغوی هغه مهال هم خپل ولس ساتلې و هغوی ته ځانګړې ملیشې جوړې کړي وی او د یو قوت په توګه یې ترې کار اخیسته چې وروسته د وخت دحکومت لپاره هم سرخوږ شوی دوی چې د ټوپک سالارۍ چغې وهې وایې ترکومې چې ټوپک سالاران ورک نه شي او له نظامه ونه ویستل شي، حکومت به همداسې د ستونزو سره لاس او ګریوان وي دا سمه ده خو دا هغه خبره ده چې د ملت غوښتنه ده خو دا هم باید ثابته شي چې د نظام دننه دټوپک سالارۍ بنیاد چا کېښود؟ د لومړي ځل لپاره ملیشې دچا دحکومت په دوره کې رامنځته شوې؟ هغه ملیشې چې هېڅ ډول نظامي زده کړې به یې نه درلودې، بې علمه او د ټولنې لوفر افراد دوی د ملیشو په نامه راټول نه کړل؟ او د ولس په وژلو او بې کوره کولو کې ترې کار وانه خیست؟ ایا په شمال کې ملیشې ددوی په وخت کې نه وې جوړې شوې؟ ایا همغه مهال دې ملیشو دپښتنو عزت، مال، او ناموس نه لوټه؟ او دا نن چې شمال کې پښتانه دآرام ساه نه شي اخیستې دا د چا دلاس تحفه ده او دا نن چې دهېواد د سالمیت لپاره ګواښ دی دا ښاغلي دچا دلاس نیالګي دي؟ دوی دا هر څه هېر کړه؟ دوی په کومه خوله د افغانیت او پښتونولي نارې وهي؟ اسلام خو یې اوس هم د دین په توګه نه دي منلې او نه یې مني.

زه دوی ته وایم چې ستاسو وزن اوستاسو حیثیت تاسو ته ستاسو پخپلو کلو او باندو کې ښه معلوم دي چېرته چې تاسو لوی شوئ او بیا مو هغه سیمې بمبارد کړې او ځوانان مو ورته شهیدان کړل که تاسو په رېښتیا هم په ملت کې ځای لرئ نو ولې په خپلو سیمو کې نه شئ اوسېدی؟ په کابل کې مو له ځانه سیاسي مبصرین جوړ کړي او په روانو حالاتو نظرونه ورکوئ چې یو نظریې هم دروانو حالاتو سره سر نه خوري خو دیموکراسي ته دې دعا کوي چې څوک یې نظامي کارپوهان کړل او څوک یې سیاسي کارپوهان، که رېښتیا هم تاسو سیاسي او نظامي کارپوهان یئ نو ولې مو هغه خپل نظام نشو ټینګولی هغه مهال تردې ډېره بده ورځ وه ولسوالی خو پرېږده چې پوره ولایتونه مو له لاسه ورکړي وو نو زه وایم تاسو پدې ولس ښه نه لګئ او نه ستاسو په تبصرو باور لري. داسې نه ده چې ګوندی ستاسې نظرونه ډېر منلي او پیاوړي دي بلکې میډیا دومره مجبوره ده چې له هرچانه یې پش پشم خان جوړ کړ.

په افغانستان کې د امریکا لس کلن شتون ګټه یې ډېره وه که تاوان یې؟

(د لومړي مخ پاتې برخه)

...ددې پر ځای چې په هېواد کې امن راشي او ولس د امن په فضأ کې خپل ژوند تېر کړي، بدامنی ډېره شوی، ان چې د هېواد پلازمینه کابل ښار هم د وژنو، بمونو او تروررونو اډه ګرځیدلی د هر افغان سکون تالا شوې او هره شیبه په دې غم کې تېره وي چې هسې نه په کور یې بم وغورځېږي او یا هم په بمي چاودنه کې خپل ژوند له لاسه ورکړي.

د څو محدودو او ګوتو په شمار اشخاصو پرته د افغانستان د ولسي وګړو په ژوند کې هېڅ ډول مثبت بدلون رانغې، پرون هم بې کوره، بې اوره او بې ډوډۍ ول نن هم دي. پرون هم د ظلم او فساد په ژرنده کې دل کېدل نن هم دل کېږي، نه ورته د سر پټولو لپاره یوه نومره زمکه چا ورکړی ده او نه هم د کار او کسب او مزدوری زمینه ورته برابره کړی. د هېواد دښتې او شاړې هم څو سرمایه دارانو تالا کړی چې ښه ګټه وربانديې وکړي او په ګرانه بیه یې وپلورې چې یو غریب یې د اخستو هېڅ توان نه لري.

په پاکستان او ایران کې دیرش لکه مهاجرین صرف په دې خاطر د محتاجي او ګدايي ژوند تېروي چې په افغانستان کې د سر پټولو لپاره دوه درې بسوې زمکه نه لري. د صحت په ډګر کې هم افغانان د پخوا په څېر ستونزې لري، د پلازمینې کابل په شمول په ټولو ولایاتو کې داسې مجهز روغتونونه، کلینکونه او لابراتوارونه نشته چې د افغانانو د ناروغیو درملنه وکړي او نورو ګاونډیو هېوادو ته د ورتګ له عذاب نه نجات بیا مومي، زیاتره دوایانې هم تاریخ تېر او بې کیفیته وارد ېږي چې د ګټې پر ځای تاوان لري. زراعت، صنعت او ټکنالوژی په ډګر کې هم په صفر ولاړ دی، د ژوندانه ضروري څیزونه له نورو هېوادو څخه غواړي چې هر کال ملیاردو ډالر له لاسه ورکوي.

د ولایاتو له مرکزونو پرته شاوخوا ولسوالیو کې د زورواکانو پاچاهي ده، د ټوپک په زور چې هر څه کول غواړي کوي یې. قتل، ډاکی، غلا، داړه ماري او نور جرمونه ښه په جرئت ترسره کېږي پوښتنې والا یې څوک نشته او سرې سترګې ګرځي.

له قضايي ارګانونو هم انصاف کډه کړې، د مظلوم، غریب او بې وس انسان چیغې او فریادونه هېڅ اهمیت نه لري هلته هم د زوره ورو مالدارانو او غټو خلکو لاس بر دی، تراوسه چېرته داسې نه دي شوي چې یو غریب مستحق ته دهغه حق ورکول شوې وي، ظالمان هرڅه کولې او ویلې شي مګر د مظلومانو شونډې ګنډل شوي دي د حق له وینا څخه ویره کوي چې هسې نه ترور یا وډبول شي.

اداري فساد خپل آخري کچې ته رسیدلې دی یو کار هم له رشوت او واسطې پرته نه کېږي، د چا قابلیت او لیاقت په نظر کې نه نیول کېږي، بلکې پیسه او شخصیتونو ته کتل کېږي هر څوک چې ډېرې پیسې او غټه واسطه لري همغه ته لوی کار ورکول کېږي که څه هم لیاقت یې صفر وي.

زیاترو وزیرانو، والیانو، ولسوالانو، رئیسانو، ښاروالانو، قاضیانو او څارنوالانو چې له ولس سره د خیانت کومه لوبه شروع کړې هغه له هیچا پټه نه ده، والیان او ښاروالان سرکاري زمکې په رڼا ورځ خرڅوي او پیسې یې خپلو جیبونو کې اچوي.

د افغانستان ولس له یو لوی پریشانۍ سره لاس او ګریوان دی یو لورې امنیت ګډ وډ دی، بل لورې د لوږې فقر او فساد فضا حاکمه ده.

له ګاونډیانو سره اړیکې ترینګلې دي او هره ورځ نوی مشکل سراوچتوي، د هېواد سرحدونو ته چې نن څومره ګواښونه متوجه دي لدینه وړاندې کله هم نه و متوجه شوي.

یو واقعي دیموکراسي هم نه په سترګو کېږي، بلکې د دیموکراسي د پردې تر شا دیکتاتوري روانه ده، د اتفاق پر ځای بې اتفاقي زیاته شوې، د افغانستان د ویش پلان ته لمنه وهل کېږي، د فدرالي نظام تصور ته وده ورکول کېږي، داسې فضا یې جوړه کړې چې د ملي وحدت په خلاف د بیلتون شعارونه اوچت کړې شي.

په راډیو، تلویزیون او چاپي رسنیو کې د فحاشي کچه لوړه شوې، افغاني عنعنات او کلتور تر پښو لاندې کېږي، د ښځو د حقوق تر عنوان لاندې بې ستري او بې حیایي زیاته شوې، د ځوانانو د ګمراه کولو لپاره په کیبل کې نیم بربنډ او له فحش نه ډک فلمونه ښودل کېږي.

په افغاني تلویزیونو او راډیو ګانو کې ددې پرځای چې افغانانو ته د خپل دین، فرهنګ او تاریخ په اړه معلومات ورکړی شي بې حیا سندرې ورته خپرېږي له اخلاقه پرې وتې خبرې اترې کېږي او له فحش نه ډک شهوت پاروونکي شعرونه او اشعار ویل کېږي، لنډه دا چې امریکا په افغانستان کې د تېرو لسو کلو په اوږدو کې افغانانو ته هېڅ بنیادي کار نه دی کړی. ددې پر ځای چې د افغانانو کړاوونه او بنسټیز مسایل یې حل کړي وای، له نورو ګڼو مشکلاتو سره یې لاس او ګریوان کړی دي، پخپله هم ځاني او مالي تاوان په سمندر کې ډوب شول او افغانان یې هم ډوب کړل، همدا لامل دی چې امریکایي او ناټو ځواکونو د افغانانو په زړه کې له کرکې پرته بل هېڅ ځای پیدا نه کړې شوه، په سلو کې ۹۵ افغانانو په زړونو کې د بهرنیو ځواکونو له شتون سره حساسیت پیدا شوی او ژر تر ژره وتل یې غواړي، همداراز هغوی پخپلو ولسونو کې هم خپل ملاتړ له لاسه ورکړی ده، هغوی پخپلو هېوادو کې د افغانستان د جګړې په خلاف مظاهرې کوي او غوښتنه ترېنه کوي چې له افغانستانه ووځي، دغې جګړې پرهغوی منفي اغېزه شیندلې ده، ډېر وګړي یې بې کاره شوي او فقر کې ژوند تېروي. امریکا دخپل تاریخ په اوږدو کې دومره نه و قرضداره شوې څومره چې د افغانستان په جګړه کې شوې، د جنګ په ډګر کې له دومره لویو ستونزو سره نه وه مخامخ شوې څومره چې د افغانستان د جګړې په ډګرونو کې مخامخه شوېده.

په افغانستان کې هم د افغانانو ملاتړ له لاسه ورکړې او پخپلو هېوادو کې هم د خپلو ولسونو له ملاتړ نه محروم شوې میډیا او زیاتره شنونکي هم دهغې په خلاف خپرونې کوي مقالې لیکي او تنقیدونه وربانديې کوي. دا پورتنی حقایق په دې خبره دلالت کوي چې امریکا په افغانستان کې د تېرو لسو کلو په اوږدو کې له ناکامي پرته بل هېڅ څه نه دي ترلاسه کړي.

نه یې افغانانو ته کومه ګټه رسولې او نه هم خپل ولس ته، نه د جنګ او بدامنی د لمنې په ټولولو بریالۍ شوې او نه هم په افغانستان کې د یو مستحکم حکومت په جوړولو، ښه به دا وي چې امریکا او ناټو غړي هېوادونه په افغانستان کې پر خپلې روانې پالیسی له نوې سره غور وکړي او د جګړې پر ځای د امن پروسه پرمخ بوځي ځکه چې یوه خو جګړه مثبته پایله نه لري او بله دا چې نور د افغان ولس ترڅنګ امریکایي او اروپایي ولسونه هم د جګړې د دوام حوصله نه لري، د ټولو یواځینی غوښتنه دا ده چې ددغې لانجې ژر تر ژره سیاسي حل لاره ولټول شي.

ناتو از طریق انترنت میخواهد راه معنوی ابریشم افغانستان را با جهان وصل کند

کابل، رسانه ها:
تفاهمنامه، های به ارزش نزدیک به چهارده ملیون دالر امریکایی میان وزارت تحصیلات عالی افغانستان، ناتو و سفارت امریکا در کابل به امضا رسید.

این سه تفاهم نامه به هدف وصل راه معنوی ابریشم از طریق انترنت به روز سه شنبه میان سرپرست وزارت تحصیلات عالی افغانستان، معاون سکرتر جنرال ناتو و نماینده سفارت امریکا در کابل به امضا رسید.

ناتو می خواهد از طریق انترنت راه معنوی ابریشم افغانستان را با جهان وصل نماید.

کار این پروژه به روز سه شنبه توسط سرور دانش سرپرست وزارت تحصیلات عالی و خانم کولینداکرابر معاون سکرتر جنرال ناتو در کابل افتتاح گردید.

معاون سکرتر جنرال ناتو تعهد کرد که با مصرف حدود یک ونیم ملیون دالر توسط یک کمپنی نارویژی ارتباط انترنتی افغانستان را از طریق راه معنوی ابریشم با جهان وصل می سازد.

وی گفت:
"پروژه ابریشم که به آغاز آن نزدیک می شویم مثال خوبی از ادامه همکاری های درازمدت ناتو با افغانستان است. ناتو خوشحال است که برای تمام ادارات دولتی و موسسات تعلیمی زمینه سریع استفاده از انترنت را مساعد می نماید، این پروژه زمینه استفاده سریع از انترنت را برای ۱۸ پوهنتون برابر می سازد. این پروژه برعلاوه، رشد سویه تعلیمي در رشد اقتصاد هم کمک می کند."

در عین حال نماینده سفارت امریکا در کابل تعهد کرد که بخاطر رساندن خدمات انترنت به هشت پوهنتون در افغانستان بیشتر از سه ملیون دالر امریکایی را کمک خواهد کرد.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی گفت: پوهنتون های که در مرحله، اول از این خدمات مستفید نمی شوند، آنان در مرحله، دوم تحت پوشش این برنامه قرار خواهند گرفت.

سروردانش در این مورد گفت:
"به تطبیق این پروژه پوهنتون ها از طریق فایبرنوری یا از طریق ستلایت با شبکه جهانی انترنت وصل شده و بعد از آن در تمام پوهنتون ها مراکز آی تی تاسیس شده به گونه، که ما در هر پوهنځی و صنف درسی انترنت فعال می داشته باشیم."

سرپرست وزارت تحصیلات عالی افغانستان افزود که پروژه راه ابریشم دسترسی به انترنت را در یازده پوهنتون فراهم می سازد که چهار پوهنتون در کابل و بقیه در ولایت های بلخ، بامیان، هرات، جوزجان، قندهار، خوست و ننگرهار می باشد.

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

ایا امریکا په افغانستان کې جګړه ګټلې او که نه؟

انټرنشنل هرالد ټریبون:
انټرنشنل هرالد ټریبون، د افغانستان په اړه په یوه مقاله کې لیکلي دي چې په دې هېواد کې د پوځي عملیاتو تر پیل لسیزه وروسته، یوه پوښتنه خامخا پیدا کیږي چې ایا امریکا په افغانستان کې جګړه ګټلې او که نه؟

ټریبون لیکي:
د اسامه بن لادن وژل کېدل د القاعده د تروریستي شبکې د ماتې معنی لري او د راتلونکې کال تر پایه له افغانستان څخه د ۳۰۰۰۰ امریکایي عسکرو تر وتلو وروسته به هم اویا زره عسکر په دې هېواد کې پاتې وي.

د امریکا اوسنۍ ستراتیژي چې اساس یې افغانانو ته د جګړې د مالکیت سپارل دي، د افغانانو د زړونو او فکرونو په خپلولو ولاړه ده.

انټرنشنل هرالد ټریبون لیکي، افغانستان له مدرنې او پرمختللې نړۍ څخه د شلیدلو او ځو وروسته پاتې قبایلو هېواد نه دی.

د دې سیمې پر حال او ماضي د پوهېدو لپاره یوازې پر یوه قوم یا طالبانو او یا یوه نژاد تمرکز تېروتنه ده.

ټایمز:
د ټایمز ورځپاڼې بیا په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو د پخوانۍ قوماندان جنرال ستینلي مک کریستل د مرکې یوه برخه خپره کړې ده.

مک کریستل په دې مرکه کې ویلي، چې د ده په شمول ګڼ شمېر کسانو د افغانستان وضعیت او تاریخ ته ډېر سطحي نظر کړی دی.

جنرال مک کریستل ویلي، چې په افغانستان کې تر ټولو ستونزمن کار د نړیوالو ځواکونو تر بشپړې وتنې مخکې د یوه داسې حکومت رامنځ ته کول دي چې ټول خلک باور پرې وکړي او د طالبانو د نفوذ په وړاندې یوه موازنه رامنځ ته کړي.

ټایمز لیکي، دا د امریکا په تاریخ کې تر ټولو اوږده جګړه ده او د دې مسلې له تکرار سره چې د غرب ستراتیژیکې ګټې د افغانستان په ثبات کې نغښتې دي، ګڼ شمېر غربي هېوادونه له دې جګړې د شاته کیدو غوښتنه لري.

ټایمز لیکي، په تیره یوه لسیزه کې نړېوالې ټولنې افغانستان ته لږ تر لږه شپږ دیرش ملیارده پونډ مرسته کړې خو ګڼ شمېر اداري وايي، چې په کلیو کې لا هم خلک په فقر کې ژوند کوي.

ټایمز وايي کله چې په ۲۰۰۱ کال کې نړیوال افغانستان ننوتل نو داسې انګېرل کیده چې طالبانو القاعده ته پناه ورکړې او غربیان له ځان څخه ددفاع حق لري.

خودجنرال مک کرستل په وینا په عراق کې د جګړې پیل د اسلامي نړۍ د زیاتو هیوادونو له نظره تر دې لږ مشروعیت درلود.

ګیلاني د رباني د ترور په اړه ...

یې انکار هم نه دی کړی.

په تېرو لسو کلونو کې په زرګونو مشران، سپین ږیري، چارواکي او قوماندانان ترور شوي خو د هغوی په منځ کې برهان الدین رباني د شمال د پخوانۍ ټلوالې دوهم کس دی چې وژل کېږي.

تر رباني مخکې قوماندان داوود داوود په تخار کې په یوه چاودنه کې ووژل شو. که څه هم طالبانو د هغه د وژلو مسوولیت په غاړه واخیست خو داسې شکونه هم شته چې پراساس یې ویل کېږي چې قوماندان داوود د خپل منځي اختلافاتو ښکار شوی دی.

د پاکستاني سرچینو د راپور له مخې د دغه هیواد صدراعظم له تروریزم سره د ګډې مبارزې لپاره له افغانستان سره د یوې ګډې ستراتیژۍ په جوړولو کار کوي.

ښاغلي ګیلاني له امریکا سره د پاکستان د اړیکو په اړه وویل، د دواړو هیوادونو ترمنځ اړیکې مخ په ښه کېدو دي.

شماری از اعضای کابینهء دولت ...

فساد دست دارند.

وی در ادامه گفت: "من چیزی را که می خواستم بگویم اینست که در پیشروی ما مشکلاتی بسیار زیاد وجود دارد که نباید از آن انکار کرد، شما می فهمید، مردم بسیار زور آوری در افغانستان هستند که حتی قانون نزد شان ارزش ندارد، آنها همیشه همان جمله، معروف لویی چارده فرانسه را می گویند (من حکومت هستم.)

من این مساله را با رییس جمهور کرزی نیز در میان گذاشتم که باید تدابیر گرفته شود تا آنها بفهمند که در افغانستان خورد و کلان در مقابل قانون همه یکسان اند."

آقای لودین می گوید: موجودیت فساد اداری در افغانستان و ناتوانی این اداره در زمینهء جلوگیری از آن، سبب شده تا میزان اعتماد مردم نسبت به این اداره کاهش یابد.

شرکت نفت زلمی خلیلزاد نتوانست ...

خشمگین است که نتوانست قرارداد استخراج نفت شمال افغانستان را به دست آورد.

پسر آقای خلیلزاد به نام الکساندر بنارد، واشنگتن مخصوصاً پنتاگون را مورد انتقاد قرار داده است که بر ضد منافع ملی امریکا عمل نموده و حکومت افغانستان را تشویق نکرد که این قرارداد را با یک شرکت غربی امضا کند. این قرارداد نفت در بدل، با یک شرکت چینایی امضا می شود.

شرکت زلمی خلیلزاد که گرفن نام دارد، از شرکت کینیز پترولیم مستقر در بریتانیا نماینده گی می کرد و تقاضای استخراج نفت شمال افغانستان را داشت. با وجود که این منابع نفت، با ۸۰ ملیون بیرل تیل منابع چندان وسیع نیست، ولی با در نظرداشت قیمت نفت در جهان می توانست معامله خوب باشد، و روزانه یازده هزار بیرل تیل بدهد.

تیتیز پترولیم بریتانیا با پرداخت پول هنگفت به زلمی خلیلزاد می خواست که وی از تماس ها و نفوذ خویش در داخل افغانستان استفاده نموده و این قرارداد را از آن خود کند، ولی این قرارداد نفت به گفته بلومبرگ با شرکت ملی نفت چین به امضا خواهد رسید و در چند روز آینده نهایی خواهد شد.

به نوشته فورن پالیسی، الکساندر بنارد ۲۸ ساله پسر بزرگ خلیلزاد در دو تبصره، جداگانه که در صفحه های انترنتی فارن پالیسی و نشنل ریفیو به چاپ رسیده است در مورد صحبت نموده است.

بر اساس گزارش بلومبورگ، شرکت چینایی که قرار است استخراج نفت شمال افغانستان را به دست آورد، توافق نموده است ۱۵ درصد سهم این استخراج و سی درصد مالیه به حکومت افغانستان بدهد و هم تصفیه خانه را به همین هدف احداث کند.

یک شرکت اتریشی که در این داوطلبی ها جایگاه دوم را گرفت، آماده پرداخت ۱۰ درصد سهم بود ولی شرکت بریتانوی که با آقای خلیلزاد همکاری دارد، آماده پرداخت کمتر بود.

رییس شرکت نفت بریتانوی دیوید رابسن در ماه اپریل گفته بود، از داوطلبی های شفاف برای اخذ این قرارداد حمایت می کند، ولی به گفته بلومبرگ بعد از اعلان برنده این داوطلبی، یک سخنگوی تیتیز پترولیم بریتانیا گفته است، این شرکت نتوانست پولی تقاضا شده را بپردازد و شرکت چینایی که برنده این کشمکش تجارتی شد، از حکومت چین نماینده گی می کند و توانست شرایط را پیشکش کند که غیر تجارتی بودند.

پسر خلیلزاد در یک تبصره که در نشنل ریفیو به نشر وسیده نوشته است:

"شرکت ملی نفت چین چگونه توانست برنده، چنین یک قرارداد در یک نقطه مهم ستراتیژیک گردد، جاییکه امریکا در آن از نفوذ زیاد برخوردار است. یک دلیل این است که وزارت دفاع امریکا که نیروهایش مشغول احیای تجارت و ثبات در افغانستان می باشد، کاری کرد که به جای شرکت های غربی، چین از این معامله بهره مند شد."

به گفته فارن پالیسی، با در نظر داشت اختلاف نظرهای دو حزبی در امریکا بین دیموکرات ها و جمهوریخواهان، تبصره های الکساندر بنارد، ضربه دیگر از سوی جمهوری خواهان به اداره، رییس جمهور اوباما بوده می تواند. ولی بنارد در یک ایمیل فرستاده شده گفته است، وی خواهان آن نیست که حکومت افغانستان حال تصمیم اش را در این مورد تغییر بدهد، ولی امیدوار است در آینده تصامیم بهتر اتخاذ گردد.

په افغانستان کې سږ کال اوه ...

ده څرګنده کړه چې د کوکنارو په کښت کې دا زیاتوالی په هغو سیمو کې راغلی چې خلکو ته حکومتي خدمتونه کمزوري دي اوسیاسي سیالي پکې ډېرې زیاتې دي:

"هغه ځایونو کې چې ډېر کوکنار کرل شوي په سلو کې پنځه نوي نا امنه دي او د قانون د حاکمیت سطح په کې ډېره کمه ده.

د کاپیسا ولایت د تګاب او د نیمروز ولایت د خاشرود ولسوالۍ او د بغلان ولایت د پل حصار ولسوالي او د امنیي قوماندان د کوکنارو له کښت څخه ملاتړ کاوه.

موږ په دې اړه خپل راپورونه اړوندو ادارو ته ولیږدو او دخپلو اهدافو د ترلاسه کولولپاره یې هرو مرو تعقیبوو".

د ښاغلي مقبل په خبره سږ کابل په یولک اویودیرش زره هکتاره ځمکه کې کوکنار کرل شوي چې پنځه سوه دري نوي کلي جوړوي.

له نشه یي توکيو سره د مبارزې وزیر څرګنده کړه چې په بېلابېلو سیمو کې د روان کال په ترڅ کې د کوکنارو د کښتونو د تخریب لپاره نږدې پنځوس عملیاته ترسره شوي چې له امله یې یو شمېر پولیس او کروندګر هم وژل شویدي،ده وویل چې سږکال په ننګرهار، کنړ، کندهار،فراه،نیمروز اوارزګان ولایتونوکې د تیرکال په پرتله کوکنار ډېر کرل شوي خوپه زابل،بادغیس اوهلمند ولایتونوکې یې کرکیله کمه شویده.

په عین حال کې په کابل کې د ملګروملتونود عمومي منشي ځانګړي استازي ستیفن ډې مستورا وویل چې دا سروې سم او ډېره کره ترسره شوې اوپکې ټول نړیوال معیارونه په پام کې نیول شویدي.

د ښاغلي ډې مستورا په خبره څلویښتو فیصدو هغو بزګرانو چې د کوکنارو له کښت څخه یې لاس اخیستي وایي،داکاریې خکه کړی چې د دولت پوره ملاتړیې ترسره کړی.

د ده په خبره اوس له بل هروخت نه د کوکنارو اړول زیات شوي اود افغان پولیسو اوچارواکوهلې خلې هم ډېرې شویدي.

هغه څرګنده کړه چې له دې سره د سیمې په سطح مخ پر زیاتیدونکې همکاری هم ډېرې مهمې دي: "له دې سربیره ښه ځراغ د سیمه ییزې همکاری احساس دی. هغه څه چې موږ یې په اړه اوس او د استانبول په راتلونکې کنفرانس کې خبرې کوو. خو د مخدره موادو پر ضد د مبارزې په عملي ډګر کې هم هر ګاونډی هیواد او یا هم نور په ډېره جدي توګه اغیزمن او اندنیښمن دي. له همدې امله سیمه ییزه همکاري چې مخ پر پراختیا ده، ډېره مهمه ده".

در افغانستان با زندانیان ...

صورت گرفته و با ۳۵ درصد دیگر هم از سوی وزارت داخله چنین برخوردی انجام شده است."

اما به گفتهء آقای سالارزی آنچه با زندانیان از سوی امنیت ملی و وزارت داخلهء افغانستان صورت گرفته، پالیسی حکومت افغانستان نیست. وی گفت که حکومت افغانستان هم اقداماتی را به هدف جلو گیری از تکرار این شکنجه ها انجام داده است.

این سخنگوی سازمان ملل متحد هم چنان گفت، که هم ریاست امنیت ملی و هم وزارت داخلهء افغانستان در بخش دسترسی سازمان ملل متحد به توقیف گاه های زیر ادارهء این دو نهاد همکاری های لازم را با این سازمان انجام داده اند.

اما سازمان ملل متحد می خواهد کسانی که دست به شکنجه، زندانیان زده اند، باید در مقابل قانون پاسخ دهند.

آقای سالارزی سخنگوی سازمان ملل متحد در کابل می گوید:

"خواست سازمان ملل متحد از حکومت افغانستان، از ریاست امنیت ملی و وزارت داخله اینست، که این برخورد نادرست با توقیف شده ها نیاز به حساب دهی و هم چنان اصلاحات دارد."

قابل یادآوریست مراجع مسؤول پولیس و امنیت ملی افغانستان این اظهارات را عاری از حقیقت دانسته و بهانه، برای تحویل ندادن زندانیان افغانی میدانند که در اسارت نیروهای خارجی قرار دارند.

د ټاکنو کمیسیون د سیمین بارکزی...

شورا جنوبي دروازې ته څېرمه په یوه خیمه کې شپې ورځې تیروي.

سیمین بارکزی وايي، چې د دې حق تر پښو لاندې شوی او باید پراسنادو یې له سره غور وشي. موږ وغوښتل د میرمن بارکزی سره د اعتصاب په لسمه ورځ هم خبرې وکړو، خو کله چې نږدې ورغلو د خبرو وس یې نه درلوده. بارکزی د اعتصاب په نهمه ورځ یوه وصیت پاڼه هم خبریالانو ته ولوسته او په کې راغلي وو چې که چیرې د اعتصاب له امله مړه کیږي نو مسولیت به یې د ولسمشر حامد کرزي، مارشال فهیم او یو شمیر نورو چارواکو په غاړه وي:

"نړۍ او د افغانستان ملت ته اعلان کوم که چیرې زما دا اعتصاب زما د مړینې سبب شي نو مسوول او ځواب ورکوونکي به ولسمشر کرزی، د هغه لومړی مرستیال، فضل احمد معنوي او عبدالروف ابراهیمي وي".

د سې شنبې په ورځ سهار د استقلال روغتون ډاکټرانو سیمین بارکزی معاینه کړې وه او ویل یې چې فشار یې ډېر ښکته او روغتیایي وضعیت یې د اندیښنې وړ دی.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مسترديږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com